

Dr.Said Afghani





# عبدالحفیظ « ملیار - ساپی »

د نشرنیته : 3 سپتامبر  2026  میلادی

# خمارونه!



چې یوسف یې د کوهي په لور ګوزار کړ
په دنیاکې داسې  ورونه خو هم شته

لا شملې یې  پسله مرګه هم یادیږي
د میرویس غوندې میړونه خو هم شته

چا ویلي  ښېتنې باتوره نه دي
د ملالې یادګارونه خو هم  شته

ژوند تیریږي خاطرات به پاتې کیږي
جګې ټیټې ، دا وختونه خو هم شته

داسې مه وایه چې زوړ شولې « ملیاره »
زړه دې ځوان دې  خمارونه خو هم شته

***

عبدالحفیظ « ملیار »

اصلی صفحه ــ  www.said-afghani.org